فضل الرحمن فاضل- قاهره
۱۰۱۷/۰۵/۰۲

# «نیچریه» د مولوی محمد یونس خالص ژباړنه

دسید جمال الدین افغانی مصر ته د لومړی ځل د یو سل او پنځوسمی کلیزې د راتک په ویاړ (1286-1436 هـ . ق) دده د «نیچریه» اثر عربی ژباړه چه د ده رشید مصری شاګرد او پیرو شیخ محمد عبده د « الرد علی الدهریین» تر نامه لاندی ژباړلی و ه او په 1886 م کال په بیروت کې چاپ شوی وه، په 2015م کال د افغانستان دسفارت له خوا مونږ چاپ ته وسپارله. دغه چاپ کښې نوښت هم کارول شوی و، او هغه دا چه تولی هغه سریزې چه په نولسمه او شلمه پیړی کښې د « الرد علی الدهریین» پر رساله باندی لیکل شوی و ه، راټول او د کتاب په سر کې ځای و رکړ شول چه د کتاب نیمایی برخه یې جوړه وله.
د «نیچریه» د اهمیت په خاطر فارسی اصلی لیکل شوی متن چه د هندوستان د بمبئې په ښار کې 136 کاله پخوا چاپ ته رسیدلی وه، هغه هم مونږ د عکاسی په بڼه او د کتاب په دوهمه برخه کې د کمپیوتری ټایپ نه وروسته ، سږ کال (1395 هـ ش) د خپل نشراتو په (53) نشراتی لړۍ کې چاپ ته ورسول.
«نیچریه» د سید جمال الدین افغانی مهم اثر او د ده لومړۍ چاپ شوې رساله ګڼل کیږی .د سید د شهرت یو لامل هم همدا اثر دی .ددی کتاب د بېلابېلو چاپونو، ژباړلې، د سبک او لیکدود په اړه ما په فارسي ژبه یوه کتابګوتی هم ولیکه .کتاب خپور او بیا ښاغلی فضل محمد حسینی پښتو ژبې ته وژباړه .د کتاب پښتو ژباړه، د افغانستان د خپلواکۍ د ۹۷ کلیزی په ویاړ په قاهره کې خپره شوه .
زما اراده دا هم وه، چې د سید جمال الدین د آثارو د بیا چاپولو په لړ کې د هغه د«نیچریه» پښتو ژباړه هم خپره کړم.
د" نیچریه" پښتو ژباړه لومړی ځل په ۱۳۴۴ هجری لمریز کال د ښاغلی میر سیعد بریمن له خوا شوې ده . ما دغه کتاب لا د زده کړو په مرحله کی لوستلی و .ما ډیر کوشش وکړ چه دغه نسخه پیدا او بیا یې دلته په قاهره کې چاپ کړم .په دې اړه زما او زما د دوستانو هلې ځلې نتیجې ته ونه رسیدې .د نیچریه هغه پښتو ژباړه پیدا نه شوه .
ګران ورور پوهنمل جنیدالله ظهیر چې د سید جمال الدین افغاني پر افکارو یې ګټوره څیړنه کړی ده .دده دا کتاب «تجدید الفکر الدینی بین جمال الدین الافغانی و محمد اقبال » نومیږي او څو موده مخکی، د مصر په عربي جمهوریت کې د افغانستان دسفارت له خوا چاپ شو .د ده کتاب په مصادر او سرچینو کی د «نیچریه» د پښتو ژباړې یادونه هم شوې وه .ما له ښاغلي پوهنمل ظهیر نه هیله وکړه، چې دغه ژباړه ماته راولیږي، چې خپره یې کړو .ښاغلی ظهیر راته ولیکل چې د سیدجمال الدین «نیچریه» مرحوم مولوی محمد یونس خالص، هم پښتو ته ژباړلې او د هغه ژباړه خپره شوې او له ماسره شته، خو د مرحوم میر سعید بریمن ژباړه راسره نشته.
پوهنمل جنیدالله ظهیر د مولوی صاحب خالص ژباړل شوې رساله راته راولیږله .او دا لومړی ځل و، چې ماته معلومه شوه، چې مولوی صاحب خالص د خپلو غوره فرهنګی فعالیتونو په لړ کې « نیچریه» هم پښتو ژبې ته ژباړلې ده . زما په فکر دغه ژباړه، لا تر اوسه، په مستقله توګه چاپ شوې نه ده، بلکې د مولانا صاحب د نورو لیکنو په یوه ټولګه کې چې «دینی مرغلرې» نومیږي خپره شوې ده.
ما د مولوی صاحب خالص دا ژباړه مطالعه کړه .ددې ژباړې تر مطالعې او څېړنې ماته جوته شوه، چې مولوی صاحب دغه رساله له فارسي متن څخه ژباړلې، نه له عربي نه . باید وویل شي، چې میر سعید بریمن هم د نیچریه رساله، له فارسی متن نه ژباړلې وه.
دلته لازمه ګڼم، چې د ځوانو لوستونکو د معلوماتو له پاره، د اروابناد مولوی محمد یونس خالص لنډ ژوندلیک ته اشاره وکړم :
مولوی محمد یونس خالص د مولوی عبد الاکبر زوي، پر ۱۹۱۹) ۱۲۹۸ هـ . ل یعنی د استقلال په لومړی کال زیږیدلی دی .دیني علوم یې د مشرقي او پښتونخوا په مدارسو لوستلي دي .بیا کابل ته راستون شوی او د دار القضاة په مدرسه کې په تدریس بوخت شوی دی.
مولوی صاحب محمد یونس خالص د لیکوالی استعداد هم درلود .د ده مقالی او لیکنې د رواني پیړی له دریېمې لسیزې راهیسې، د افغانستتان په مطبوعاتو کی خپرېدلې .هغه دیره موده د« پیام حق» د میاشتنی مجله مسئول مدیر هم و .په خوست کې یې د «وړانګې» مجله هم چلوله او د « ګهیځ » د ویښوونکې او متعهدې اونیزه سره، چې د شهید منهاج الدین ګهیځ له خوا اداره کیدله، لیکوال او همکار غړی و او هلته یې مضامین او مقالات خپریدل .
مولوی صاحب خالص دیني روښانفکر مبارز او انقلابي عالم و .د جهاد د دوران، د مجاهدینو د سترو رهبرانو په جمع کې شمیرل کیږي او دده رسمي سازمان « د افغانستان اسلامی حزب» نومیده، چې پر 1357 هجری لمریز کال کې یې، دده په مشرۍ خپل فعالیت پیل کړی و .مولوی صاحب د مجاهدینو د رهبرانو په قطار لومړنۍ کس شمیرل کیږی، چې د جهاد د پیل کالونه کی خپله، مورچل ته تلو او د مجاهدین رهبري او لارښوونه یې کوله.
د مولوي صاحب خالص د ژوند یوه نه هیریدونکې پاڼه داده چې په واشنګټن کښې د مجاهدینو په استازیتوب خبرې کولی او د خبرو اترو په لړ کښې مولوي صاحب خالص د امریکې ولسمشر رونالډ ریګن ته د اسلام راوړلو دعوت یا بلنه ورکړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

پروفیسور برهان الدین رباني د مولوي صاحب خالص د مبارزي او جهاد په نمانځغونده کي، له هغه وروسته، چي دده د علم او مبارزي په درناوي یادونه کوي، دده د فطري غرور، داسي ستاینه او یادونه کوي :

« زماني که به پشاور مهاجر شدیم، به یاد دارم که اگرجزئی ترین سخنی از مقامات نظامی و سیاسی پاکستانی با غرورش بر می‌خورد، آتش می‌گرفت و با قوت ایستادگی می‌کرد و با صراحت حمله می‌کرد، غالباً برای آنان می‌گفت که در اینجا نیامده ام که از شما بشنوم و اصلاً به کمک بین المللی که برای افغانستان به شما می‌آید، هیچ نیازی ندارم و ماه ها با آنان مقاطعه می کرد و مانند عقاب بلند پرواز در کوه های «سپن غر» برای خودش مرکزی ساخته بود و در« توره بوره» که همانجا می‌رفت.» خط رهبر ، جلد پنجم ص 125

مولوی صاحب خالص برسیره پر دي چه دیني عالم و، د پښتو ژبي په ادبیاتو کي" خوږ ژبی "او" اور ژبی "شاعر هم بلل کیږي .ده د« خالص » «نبي خیل» او «نبي» په تخلصونو شعرونه و یلي دي . دده شعرونه دعوتگرانه،لاربښوونکي، انتقادي او اصلاحي بڼه لري . دده د شعرونو، څو بیلگي به یې دلته راوړو :

**پوچ کارتوس**

ما وي چي باز دی خو تپوس وختو
په دوسانو کي دووس وختو
د زړه په وینو مي روزنه ورکړه
چي زړه تري جوړ کړم، خو پیوس وختو
ډېر مي تولنه کي دروند وتللو
اخیر کي سپک اندې د بوس وختو
په جهادي هدف یي لوبي وکړي
خدایږو له روس څخه چروس وختو
د امریکا په ډالر ونښېده
د خدای له مرستي نه مایوس وختو
موږ وي د ده له بخته مخکي به څو
خو دی پهخپله کي منحوس وختو
خالص له بل چا نه گیله نه کوي
پوچ یي له خپل جیبه کارتوس وختو

**وهي په بډه**

اخره زمانه شوه غله اوښان وهي په بډه
ددي وخت منافق مسلمانان وهي په بډه
د روس په غلامی کي ازادي د وطن غواړي
داهغه پرچمیان دي چي خلقیان وهي په بډه
ببرک چي لوبي وکړي دامین پر سرداځکه
فرعون ددي وخت دي چي هامان وهي په بډه
دنیا هغه بودې ده چي سینگار لري، دناوي
واړه، زاړه، ځوانان واړه یوشان وهي په بډه
چي پیر کړي لار غلطه او دنیا ته په سجده شي
دوکه وربادي نه شي مریدان وهي په بډه
یو بل ته سره غله دي خو دعوه کړي دیووالي
په نوم داتحاد واړه سامان وهي په بډه
ځان ساته نبي خیله چي تاهم په بډه نه کړی
رهبر چي شي بي لاري رهبران وهي په بډه

**پښتنه پیغله**

هغه ده چي راغله گریوان ځیري کوی شور
خدای زده چي داځوک ده او روانه د کوم لور
هاغه ده پیني توري سپینو واورو کي رادرومي
وه ملگرو گورئ چي راخېژي په پیچومي
تور پیکي یي پروت دي پرسپین مخ لکه د لومي
لاس کي یي نیولي په سرو وینو ککړ لور
خدای زده چي داځوک ده او روانه ده کوم لور
پوه نه یم چي ولي گریوان ځیری ژړه غوني ده

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ولي سپینو واورو کي پټي یېلي راختوني ده
څوک یي دي وژلي که مظلومه تښتیدوني ده
خوله یي کیلي شوې ورته بل کړی اول اور
خدای زده چي داڅوک ده او روانه د کوم لور

***شرنګار دزولنو***

مه خانده ظالمه کـړپهار دزولنوته مي
ګور ه نتیجه کي اخـر کار د زولنو ته مي
تاته غرابي کوټه قلفي مظلوم بندي ښکارم
ناځي دجنت حورې سینګار دزولنو ته مي
انس او جن لاڅه چـي ورته اسمانو کي هم
غوږ ملایکان نیسي شرنګار دزولنو ته مي
خدای چي راته وایي څۀ دي راوړل ورته وایم به
داپه ښو کي وګوره پرهار د زولنو ته مي
ستا دژوندانه د دایرې محیط که پام وکړې
نن سبا اړشـــوی دی برکار د زولنو ته مي
مړبه شي راپرې به وځي اوملابه دی درماته کړي
داقدرت ورکړې رب ګوزار د زولنو ته مي
خیزکړه نبي خپله په مور چل باندي وروداڼګه
زر کړه ملتفت ظالم پیکار دزولنو ته مي

زما ګران ادیب، شاعر، مبارز ، مجاهد، لیکوال، ژورنالیست او خیرونکی دوست ښاغلی عبد الباری شهرت ننګیال چي مولوی صاحب خالص سره یي د جهاد په دوران نیږدی پیژندګلوي درلوده، دده تر وفات وروسته، د هغه په هکله د « رهبر خالص - شاعر نبي خیل » تر عنوان لاندې؛ ددغه مشر ژوند ته ژوره کتنه کړی دی او دخپلي مقالي په یو ځای کي داسي لیکلی دی :

« عجیبه سړی و، ملا و، مولوی و، د قرآن کریم حافظ و، سخت دریځه و، مجاهد و، قوماندان و، لیډر و، په خپله خبره ولاړ و .هویي هو وه، نه یي نه، خو دغه ملا، مولوی حافظ او سخت دریځه بوډا "حضرت باز" نازاوه دا د" حضرت باز " د ببوسې، بي ارزې خوارې او پردېسې وختونه وو، خوله کنداسه، آواز لړزاند، خو دی یوه ملا، مولوي، حافظ او سخت دریځه د هغه ناز ووړ .د ژوند توښه یي وربرابروله، میاشت په میاشت یي پاله لکه د خپل دفتر مامور، لکه د خپل سنګر مجاهد ."حضرت باز" چا دفتر ته نه پریښود، د کمشنرۍ په راشن او پنډغالو کي یي ځای نه و، ځکه چي ده کلونه د پښتو نستان پروګرام کي ددیرې مجلس تود ساتلی و.»

ښاغلی شهرت ننګیال د همدغي مقالي په بل ځای کي دده انقلابي طبیعت داسي انځوروي :

«خالص د یوه تنظیم مشر و، رهبر و، لیډر و .دده تنظیم تر ټولو غوره قوماندانان او جنګیالي لرل، دیو تنظیم د مشر په توګه خالص وسلي، پیسي او شونتیاوې لرلې، خو چي یو سهار به راپاڅېدي خالص به دي مخي ته ولاړ و، نه به رهبرو، نه د تنظیم مشر، یو دردمند افغان به دی لیده، یو مجاهد یو کډوال چي د تنظیمونو د رهبرانو او هغه مسلط حاکمیت پر وړاندی دریدلی و .پر دغه ورځ به مولوي خالص نبي خیل و،

شاعرنبي خیل، لیکوال نبي خیل .په دغه ورځ به ده خپله له رهبر او لیډر سر ټکاوه، لیډران او رهبران یي غندل پرد غه ورځ خالص شاعرو او لیکوال و .

خالصه خیر دي غواړه چي شپي ورځي دې ترخېږي
چي غله شي مجاهد او رهبران شي کوڅه ډب
وباشي قام کي ګډه د ژوندون بېړی چپه شي
دچاچي ملایان او طالبان شي کوڅه ډب
نوکر داستعمار شي خپل ملت په نورو پلورې
دکوم هیواد چي یوه ملی ځوانان شي کوڅه ډب
وطن ساتلی نه شي په څوکی چي کړي جنګونه
کیډرې ترینه ښې چي زمریان شي کوڅه ډب

دغه مهال به خالص شاعر و، یاغي شاعر، دلیږر، رهبر او هغو مسلطو سیاستونو مخالف شاعر.»

مولوی صاحب خالص په پښتو او عربی ژبو کي چاپ شو ی آثار لري .د جهاد په دوران کي د افغانستان د اسلامی حزب نشراتي ارګان « النور» نومیده .ددغه خپروني زیاتره سرمقالی به د ده په قلم لیکل کیدي .دده د ځینو آثارو عنوانه، په « خالص بابا ځانګړی بلاګ » یا ویبپانه کی داسي نومول شوي دي :

۱- دیني ملغلرې
۲- شرح العقیدة الطحاویة _ ژباړه(پښتو)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

٣- شرح العقيدة الطحاوية_تاليف(عربي)
٤- عقل تقليد او دنيوي ګټې وټې
٥- اسلامي روح
٦- د اسلامي عالم نن او پرون
٧- المفاتيح_مفتاح الصرف(لومړی برخه)(پښتو)
٨- اسلام د ضعيفو پوهانو او ناپوهو څوانانو تر منځ(ژباړه)
٩- دين او اسلامي تمدن(ژباړه)
١٠- روح الاجتماع
١١- ژوندي اشعار(شعرونه)
١٢- دامونه او داني(شعرونه)
١٣- تور زړو ته يمه توره او سپين زړو ته يمه سپينه(شعرونه)
١٤- خوږو ته خوږه او ترخو ته ترخه(شعرونه)
١٥- اسلامي جهاد او ګټه يې
١٦- زه څوك يم او د څه لپاره مبارزه كوم؟
١٧- من انا ولمادا اجاهد؟
١٨- پښتون قوم او د هغوی وظيفه
١٩- دوه مقالي(لومړی ټوك)
٢٠- دوه مقالي(دويم ټوك)
٢١- حكمتيار صيب څه وايي؟
٢٢- رمضانيه
٢٣- حقيقي مجاهد څوك دی او بايد څه وكړي؟
٢٤- موقف حزب اسلامي(دري)
٢٥- جهادي لار او لارښووني
٢٦- ازموده را ازمودن خطا است(پښتو)
٢٧- مجاهد ملت ته پيغام
٢٨- د حج لارښوونكې
٢٩- د اسلامي حزب نوې اساسنامه
٣٠- د مسووليت احساس د مصونيت زامن دی
٣١- باغي څوك دی؟
٣٢- ديني ګټې وټې
٣٣- ناوړه دودونه
٣٤- ښځه او نارينه يا د انساني ټولني دوه وزرونه
٣٥- حساب...

مولوی صاحب خالص د ١٣٨٥ هجری لمريز كال د چنګاښ په ٢٨ نېټه، چې ٢٠٠٦ ميلادی كال دجولای له نولسمې سره برابره وه، له يو عمر مبارزې، جهاد او روښنګری نه وروسته، له دې فاني نړی څخه سترګې پټې او په حق ورسيده .إنا لله و إنا إليه راجعون.

***


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



مولوی صاحب خالص خبري کوي ، دکتور زلمی خلیلزاد یې ژباړي او مستر رونالد ریګان یې اوري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ